شماره نهم ویژهٔ ۷ اسد روز بیرق ملی

هفته نامه

# ملـی پراخـتـیـا انکـشـاف ملـی

ارزش های اصلی ما | کیفیت | مثمریت | پایداری


Thursday 29 July, 2021 | پنج‌شنبه ۷ اسد، سال ۱۴۰۰

**پیام هفته** بیرق ملی افغانستان؛ نماد عزت، غرور، آزادی، همبستگی و استقلال ما برای همیشه در اهتزاز باد!

## د ملالې میوندې مقبرې د بیا رغولو چارې ګړندۍ پرمخ روانې دي

یکشنبه ۳ زمري ۱۴۰۰





د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کې د ملالې میوندۍ د مقبرې د بیارغولو چارې ګړندۍ پرمخ روانې دي.
دغه مقبره د ملي پراختیا شرکت بنایي ودانیز ریاست له لوري جوړیږي چې مالي لګښت یې د جمهوري ریاست ملاتړې اداري له خوا ورکول کیږي.
شهیده ملالی میوندۍ د نن نه تقریبا ۱۴۱ کاله واړندې په ۱۸۸۰ میلادي کال د جولای د په ۲۷مه د قندهار په میوند ولسوالۍ کې د وخت له یرغلګرو ځواکونو (انګریزانو) سره په مخامخ جګړه کې په شهادت رسیدلې ده؛ خو تاریخ یې د ننګ او غیرت کارنامې تر نن ورځې پورې افغان ولس ته محفوظې ساتلې دي.

## سخن هفته

### بیرق ملی مظهر قدرت و همبستگی ملی ماست

بیرق ملی در نگاه عموم مردم نه به خاطر پارچه آن و رنگ و نقشی که بر آن بسته شده، بلکه بیرق ملی از دید مردم نمادی از قدرت، اتحاد و همبستگی است که باید به آن احترام گذاشته شود و جایگاه آن حفظ گردد.
بیرق در کنار زبان و خط مشترک، یکی از ارکان هویت مشترک در همه کشورهای جهان به شمار می‌رود که اهمیت دادن به آن در میان مردم با استقلال کشور و همبستگی ملی رابطه مستقیم دارد.
اسطوره‌ها، حماسه‌ها و نمادها بخش مهم از تاریخ و فرهنگ هر سرزمین می‌باشند که نه تنها بیانگر آرمان‌ها، رویاها و حیات فرهنگی و اجتماعی مردمان هر سرزمین بوده و هستند، بلکه خود نیز در شکل دادن به زندگی سیاسی، فرهنگی و اجتماعی نقش اساسی را ایفاء می‌نماید.
بیرق به‌عنوان یک نماد ملی در جهان امروز از اهمیت خاص خود برخوردار است، اگر چه نمادهایی مانند پرچم در همه تاریخ نقش ایفاء می‌کرده‌اند، اما در عصر جدید و بواسطه تشکیل دولت- ملت‌ها آنها جایگاه و کارکردی جدید و اهمیتی مضاعف یافته‌اند.
و اما در افغانستان ...
بیرق سه رنگ کشور در طول تاریخ از فراز و نشیب‌های زیادی گذشته و چندین بار تلاش صورت گرفته است تا این نماد اتفاق، وحدت، هویت تاریخی، نشانهٔ سربلندی و عزت افغان‌ها را بگیرند. اما این پرچم پر افتخار با قلب سرشار از صدمات در قله‌های شامخ این سرزمین قامت راست کرده جلوه‌های زیبایی رنگ‌ها، اعتقادات، هویت تاریخی، داشته‌های مادی و معنوی، اتفاق، همدلی را به نمایش گذاشته است.
هیئت رهبری، کارمندان و کارکنان شرکت انکشاف ملی، ۷ اسد روز ملی بیرق را به مردم زجر کشیده افغانستان مبارکباد گفته و این روز را پاس می‌دارند.
همان‌طوری که بیرق ملی ما همواره نشانه، اتحاد و یکپارچگی مردم ما بوده است؛ آرزو داریم گرامی داشت از این روز، مردم کشور ما را بیشتر از بیش دور هم جمع کرده و الگویی باشد برای مبارزات و افتخارات همیشگی در راستای برقراری صلح پایدار، ترقی، پیشرفت و حفظ ارزش‌های ملی کشور.



پیژندنه

### د ملي پراختیا شرکت هلمند ودانیز ریاست

د هلمند ودانیزه دستګاه په ۱۳۴۵ لمریز یا ۱۹۶۶زیږدیز کال کې د امریکایي کمپنۍ موریسون کنوډسون (Morison Knodson) له تجهیزاتو او تجربه لرونکو کارمندانو څخه چې د کجکي او د هلمند د اوبو رسولو پروژې ودانیزې چارې یې څه نا څه بشپړې کړې وې، د دولت په چوکاټ کې د خپلواکه بودیجوي واحد په توګه رامنځته شوه.
په همدې کال کې یې له ۳۰۰ میلیونه افغانیو پانګې سره، په دولتي انتفاعي تصدۍ بدلون وموند او په دې وتوانیده چې د کار په لمړیو مراحلو کې، د پروژو د تمویل لپاره د آسیا له پراختیایي او نړیوال بانک څخه مالي سرچیني ترلاسه کړي.
د دې دستګاه ځینې مهمې پروژې لکه د خان آباد د اوبو لګولو پروژه، د آمو سیند استنادي دیوالونه، د نیمروز د لشکري ویاله پروژه، د سلما بند، د ننګرهار ولایت د کامې بند او یوشمیر نورې پروژې په ځان کې رانغاړي.
دا دستګاه په هیواد کې ۹ فعالې څانګې او تقریباً ۲۰۰تنه کارمندان لري او د ولسمشر له فرمان سره سم د ۱۳۹۸کال کې د ملي پراختیا شرکت کې مدغم شوه، چې د هایدرولیکي ودانیو په جوړولو، د باران اوبو په زیرمه کولو او د کابل ښار د اورښت اوبو په مدیریت کې فعالیت کوي. په ملي پراختیا شرکت کې له ادغام وروسته، لسګونه غټې او وړې پروژې تر کار لاندې لري چې یوشمیر یې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي هم دي.

## کار اعمار لیلیه پوهنتون فاریاب در حال تکمیل شدن است

دوشنبه ۴ اسد ۱۴۰۰





کار ساخت‌وساز یک باب لیلیه در پوهنتون ولایت فاریاب به زودی تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

لیلیه پوهنتون فاریاب همرای تهکوی در شش منزل اعمار می‌گردد که همزمان ظرفیت گنجایش ۱۰۰۰ محصل را دارا خواهد بود.

این لیلیه از طرف ریاست ساختمانی بنایی شرکت انکشاف ملی و به هزینه مالی اداره حمایوی ریاست جمهوری درحال اعمار قرار دارد که کار عملی آن ۸۰ درصد تکمیل گردیده ا ست .

قابل ذکر است که در ولایت فاریاب چندین پروژه ساختمانی از سوی شرکت انکشاف ملی تحت کار است که برخی آنها به بهره برداری سپرده شده است.

## کونړ کې به ډېر ژر یو ورزشي جمنازیم ګټې اخیستنې ته وسپارل شي

سه شنبه ۵ زمری ۱۴۰۰





کونړ ولایت کې د ورزشي جمنازیم د جوړیدو چارې د بشپړیدو په حال کې دي او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دغه جمنازیم چې د جوړولو چارې یې دملي پراختیا شرکت اروندبنایي ودانیز ریاست له لوري پرمخ وړل کیږي مالي لګښت یې د جمهوري ریاست ملاتړې اداري لخوا ورکول کیږي او تردې مهاله یې ۹۲ سلنه رغنیزې چارې بشپړې شوې دي.

یاد جمنازیم له ټولو اړینو ملحقاتو سره جوړیږي چې په یو وخت کې به د شاوخوا ۱۵۰۰ تنه نندارچیانو د ځاییدو ظرفیت ولري.

د یادونې وړ ده چې په دې ولایت کې له جمنازیم سربیره د ملي پراختیا شرکت له لوري دغو نورو بیلابیلو ودانیزو پروژو رغنیزې چارې رواني دي چې په پرانیستو سره به یې اړونده برخو کې د خلکو ستونزې هوارې شي.

## د پولي تخنیک پوهنتون چاپیریال ساتنې پوهنځي تدریسي تعمیر د جوړولو چارې پیل

سه شنبه ۵ زمری ۱۴۰۰



د پولي تخنیک پوهنتون چاپیریال ساتنې پوهنځي تدریسي تعمیر د جوړولو چارې د ملي پراختیا شرکت بنایي ودانیز ریاست له لوري پیل شوې.

دغه تعمیر چې د ۴۰۰۰ تنو محصلینو د ځایدو وړتیا به ولري په پنځو پوړونو کې د ټولو اړینو ملحقاتو لکه: درسي خونې، کنفراس خونې، کمپیوتر لب، لابراتوار، شنه ساحه او نورو ټولو امکاناتو په درلودلو سره د جوړیدو په حال کې دی.

د یاد تدریسي تعمیر مالي لګښت د جمهوري ریاست ملاتړې اداري له خوا ورکول کیږي.

داپه داسې حال کې ده چې ملي پراختیا شرکت له دې وړاندې کابل پوهنتون کې دوه معیاري لیلیې جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارلې دي.

## پیشرفت در احداث چکدیم ولسوالی بنوی ولایت بغلان

دوشنبه ۴ اسد ۱۴۰۰

کار احداث چکدیم منطقه یوچ ولسوالی بنوی ولایت بغلان به زودی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده خواهد شد.

این چکدیم ۱۵ متر طول، ۸،۲ متر عرض و ۵،۲ متر ارتفاع دارد که در یک وقت ظرفیت ذخیره ۳۵۰۰۰ مترمکعب آب را خواهد داشت.

این چکدیم از طرف شرکت انکشاف ملی ریاست ساختمانی هلمند احداث و هزینه مالی آن از طرف اداره ملی تنظیم آب پرداخت می‌گردد.

چکدیم یوچ با ظرفیت آبیاری ۸۰ هکتار زمین در حالی از سوی شرکت انکشاف ملی احداث می گردد که این شرکت پیش از این نیز کار احداث ده‌ها بند خورد و بزرگ آبی را در کشور آغاز کرده است.



## تصویر هفته بمناسبت گرامی‌داشت از ۷ اسد روز بیرق ملی

